


د مولانا سعيد افغاني :آزاده ، تولنيزه،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!

---



# نجم الرحمن « مواج »

د نشرنيته : 17 جون 2022 ميلادى

# مور

موريِ زړه چي دي زما دميني کوردئ
زما زړه کی هم دا ستا د ميني اوردئ
که ليمه مي هم ترپښولاندي دي فرش کړم
لا هم پاتي دي پرما دغرونو پور دئ
دي نړی ته چي زه سرترپايه ګورم
هري خواته ستا دميني زوږو شوردئ
شاو خواته مي داستا وړانګه خوره ده
که مي ځنګ کي ناسته خور اوياناست وروردئ
که داستا د پاکي ميني په راز پوه يم
پوه پر هر څه يمه ستا د ميني زور دئ
پر عيسا دزماني به دچا پوروي؟
عيسي هم که پوروړی دئ دموردئ
زه مواج داستا له ميني نه ممنون يم
له موسکا نه دي زما جهان سمسوردئ

***

نجم الرحمن « مواج »

بارګشت به صفحه اصلی – [www.said-afghani.org](http://www.said-afghani.org)